# د قیصې قیصه یوه جائزه

# A review of the story of story

Dr.Qadr e wahed(samandar Yousafzai)*

**Abstract:** Humans have different traits and instincts, so one trait and instinct is that a person shares a thing, an incident, a story with others and lightens the burden of his heart. The taste of story is mixed God in the clay of humans. It is said that the story and the human being are inseparable. if we talk about the history of the story, the story has passed through different stages and has taken different forms. In this article, the historical background of the story has been discussed in .the light of research principles

**Keywords**: Story, human, forms, historical background, principles

په کائناتو کښې چې څومره هم قدرت مخلوقات پیدا کړي دي، خپل خپل پیدائشي خصلتونه او جبلتونه لري. په دغه مخلوقاتو کښې د ټولو نه غوره مخلوق خالق انسان پېدا کړے دے. انسان خدا ے په مختلفو خصلتونو خوبیو او جبلتونو نمانځلے دے، د ښکلي قد قامت او کړو وړو سره سره ئې ورله ذهن او ژبه هم ورکړې ده. ددغې ژبې په ذریعه انسان خپل مافي الضمیر خپل احساسات ، جزبات او مشاهدات وړاندې کوي چې د نورو مخلوقاتو نه ئې هم د دې په ذریعه امتیازي حېثیت حاصل کړے دے ځکه خو یونانیانو انسان ته حیوان ناطق وئیلے دے. لکه څنګه چې دا د انسان فطرت او ضرورت دے چې دې به څۀ خوري، څښي، څه به اغوندي. دغه شان به کله ژاړي او کله به خاندي خپل جسماني خواهشات به هم پوره کوي او تر ډېره حده دغه کارونه او ضرورتونه د نورو مخلوقاتو هم دي خو د انسان دغه ټول ذکر شوي خیزونه په فرق دي نور مخلوقات د خوړو څښو نه علاوه څه خاص ضرورتونه نۀ لري ځکه نو شریک ژوند تېرولو ته هیڅ اړتیا نۀ لري او د موسمي بدلون او جسمامت د معمولي بدلون نه علاوه ئې په ژوند کښې څه خاص بدلون نۀ دے راغلے، یو انسان دے چې د خپل عقل سوچ او فکر په وجه ئې دنیا د کوم ځا ے نه کوم ځا ے ته راورسوله چونکې انسان د ټولنیز ژوند تېرولو نه بغیر نۀ شي پاتې کېدے. بل انسان د خوراک څښاک او جنسي خواهشاتو یعني د دغه حیواني خاصیتونو نه علاوه

---

* Lecturer Department of Pashto Malakand University

عقلي،اخلاقي او جمالياتي شخصيت هم لري ځکه نو ډېر د ابتداء نه چې د کله انسانانو ژبې سپړدې دي نو خپل احساسات ، جزبات ،تجربيات او مشاهدات ئې د يو بل سره شريک کړې دي دغه خبرې اترې به په اوله کښې ډېرې ساده باده او د خپل وخت د ضرورت تر مخه وې چې په يو انسان څه هم تېر شوي هغه کۀ ښه وو او کۀ بد وو نو هغه ئې د بل سره شريک کړې دي۔ انسان چې کله هم د څه ستونزې يا قدرتي افتونو سره مخ شوے دے او د دغه ستونزې ، حادثې او په هڅې باندې په خپل ذهني او جسماني استطاعت بريالے شوے دے نو لکه د يو هېرو په توګه ئې د خپلې دغې خوښۍ او خوشحالۍ د مقام منظرکشي په لفظونو کښې بل ته د کولو په وخت د تخيل نه هم کار اخستے دے او خبره مخ په وړاندې تلې ده چې د قيصې شکل ئې اختيار کړے دے۔

لکه څنګه چې مخکښې ذکر وشو چې د انسان مختلف خصلتونه او جبلتونه دي نو په هغې کښې يو خصلت اوجبلت دا دے چې انسان يوه خبره،يوه واقعه،يوه قيصه د بل سره شريکه کړې او دخپل زړه بوج سپک کړي ځکه چې ليدلي اورېدلي څيزونه يعني قيصه قدرت د انسان په خټه کښې اغږلي ده۔ قيصه او انسان لازم ملزوم دي ۔کېدے شي په اوله اوله کښې انسان دا قيصې او واقعې د ضرورت تر مخه يو بل ته کولې خو رو رو د وخت تېرې او د خوند د پاره په کار راوستې شوي دي او د يو فني جوړښت زړۀ راښکونکې ترتيب او سسپنس شکل ئې اختيار کړے دے۔

که يو اړخ ته انسان د قېصې اورېدو شوقين دے او د ماشوم والي نه واخله د بوډاتوب پورې د قيصې اوريدو اوقيصې کولو نه بغير خوب نۀ ورځي نو بل اړخ ته قدرت داسې انسانان هم پيدا کړي چې په هغوئي کښې ئې د قيصې کولو په ښه توګه حس هم پيدا کړے دے ۔ لکه څنګه چې په دې زمانه کښې ډرامه نګار،ناول نګار او افسانه نګار پيداشوي دي يا اوس هم قيصه د هر چا د خولې نه خوند نۀ کوي اکثر يو واقعه يا قيصه د ګڼو خلقو سره شوې وي خو چې کله په يو محفل کښې کښيني نو يو ته پکښې ټول فرمائيش وکړي چې هغه فلانۍ قيصه دوئي ته وکړه ځکه چې هم هغه کس ئې ډېره په خوند خوند د خپلې مالګې مسالې سره بيانوي۔

لکه څنګه چې دا خبره واضيحه ده چې انسان تر ډېره وخته په ليک لوست نۀ پوهېدو دغه خبرې واقعې او قيصې د وخت وخت سره پيدا شوي او ختم شوي دي او څه

پکښې تر څه وخته خوله په خوله او سینه په سینه د یو نسل نه بل نسل ته منتقل شوې دي ـ په دغه قیصو کښې د قیصې ماهرینو خپله مالګه مساله هم شامله کړې ده او تاریخ ته ئې پرېښې ده ـ په زرګونو او لکونو قیصې او واقعې پیدا شوي او ورکي شوي دي ځکه چې د محفوظ کولو څه بندوبست ئې نۀ وو، دا خو چې کله انساني ژوند د یو ډېر اوږد ارتقائې سفر نه راتېر شو او د ژوند په هر ډګر کښې بدلون راغلو او ټولنیز ژوند ئې د یو منفرد تهذیب او تمدون شکل اختیارکړو او د ژوند د ډېرو تجربو سره سره د لیک لوست صلاحیت هم په وجود کښې راغلو نو هم له دغه ځایه د انساني تهذیب تاریخ اثار په نظر راغله او د دغې تهذیبي مطالعې نه مونږ ته د قیصې وجود په نظر راغلے دے ـ

د لیک نه مخکښې قیصه د وخت او خولو بدلېدو سره قیصه اوړېدلي را اؤړېدلي او د قیصې نه قیصه زېږېدلي ده ـ د دغه قیصو کردارونه به پېریان دیوان او لیدلي نا لیدلي ذهني مخلوق ؤ ـ د دغې کردارونو مخصوص صلاحیتونه او قوتونه وو لکه دېوان به الوتل او درانه او سخت سخت کارونه به ئې کولے شوه ـ دغسې ښاپېرۍ به هم الوته ښائیسته به وه او په جادو مادو به هم پوهېده ـ دغسې د بزرګانو کردارونه به هم وو چې هغوئي به ناشوني کارونه په جادو او کراماتو تر سره کول[1]

قیصه په مختلفو اندازونو او د مختلفو مقصدونو په غرض پېدا شوې ده او په مختلفو وختونوکښې ئې خپل شکل او صورت بدل کړے دے ـ د قیصه ایز ادب چې کوم جدید شکلونه دي په فني حواله د هغې د جوړښت او ارتقائې سفر اندازه ډېره په اسانه لګي خو ولې د قیصې او داستان تاریخي پس منظر او فني جوړښت د یو بل سره دومره ګډ وډ شوے دے چې اندازه لګول ئې مشکل دي په ظاهره خو دا دواړه یو شان ښکاري خو د څه لږ ډېر بدلون له وجې کشاله هم پیدا کوي او که مونږ په مختصرو ټکو کښې د قیصې په حواله خبره کوؤ نو قیصه خوله په خوله حقیقي یا فرضي واقعات چې هر قسمه کردارونه لري، چې د څۀ اخلاقي او اصلاحي درس ورکولو قید نۀ لري او نۀ په فني حواله د څۀ خاص اختتام کولو انتظام کول ورله ضروري وي او د موضوعاتو په حواله پکښې تنوع وي لکه خیالي،تاریخي او رزمیه او د دې نه علاوه هم کېدے شي ـ

د دې برعکس داستان که یو خوا خپل فني جوړښت او د یو اخلاقي ،اصلاحي او مذهبي غرض او مقصد په توګه بیانولې شي چې کردارونه ئې ځناور،ونې بوټي او مافوق

الفطرت مخلوق وي ـ دا هم خوله په خوله او سینه په سینه د یو نسل نه بل ته منتقل شوے دے ځکه خو اکثر دواړه په یو نوم یاد شوي دي، چونکې بنیاد ئې قیصه ده ځکه نو چې کله کله پوهان د قیصې ذکر کوي نو په حکایت، اساطیر او داستان ئې یادوي خو دا خبره واضحه ده چې اول قیصه زېږدلي ده او بیا وروسته د څه لږ ډېر بدلون په وجه په حکایت،تمثیل،اساطیر او داستان یاد شوې ده خو بنیاد ئې هم دغه قیصه ده او کۀ مونږ د قیصې قیصه کوؤ نو سر ئې هم هلته رسي د کله نه چې انسان ټولنیز ژوند پېل کړے دے او دومره ارتقائي سفر ئې کړے چې لیک لوست ئې ذده کړے او بیا ئې څه قیصې محفوظ کړې خو خدا ے خبر چې څومره به ضائع شوي وي۔

د اعظم صېب په خیال په لیکلي صورت کښې یا د موجودو شواهدو په رڼا کښې د قیصې قدامت د مصر ،یونان او هند په خاوره لبدے شي چې پکښې د مصر قیصې ۲۰۰۰- دوه زره ق م ته رسي او د یوې اندازې مطابق دا د ۳۰۰۰ درې زره نه واخله تر ۴۰۰۰ څلور زره ق م پورې د the tale of the magicians په نوم یا دېږي۔ کومې چې د ونو په پڼچ او پیپرس لیکلې شوې دي[2]

خو لکه څنګه چې قیصه د منطق په لحاظ د تهذیب سره تعلق ساتي او زمونږ سره د مصر نه مخکښې د فرات او دجله په خاوره که هر څو د تهذیب د لړۍ دغه کړۍ ډېره تر لري رسوي خو د موجوده تحقیق په رڼا کښې دغه تاریخ تر پنځه زره ( ۵۰۰۰ ق م) ته رسي او د قیصې اثار هم د دغه تهذیب په دویم دور کښې ساراغون (۳۵۰۰ ق م - ۲۷۵۰ ق م) نومې بادشاه د قیصې په شکل کښې په نظر راځي کومه چې د کاڼي په کتبه لیکلې شوې ده کومه چې څه په دې ډول ده " زه د یوې غریبې مور زوے یم او د خپل پلار پته راته نشته مور ساتلے نۀ شوم نو په ټوکرۍ کښې ئې دریاب ته غورزولے ووم ایشتري دیوي زما په حال رحم وکړو او زه ئې بادشاه کړم چې څلور پنځوست کاله حکومت مې وکړو[3]۔ دغې ته که اوس څوک قیصه وائي او که واقعه البته د قیصې په حواله ئې ذکر کول ضروري وو ـ د دې نه علاوه د سمیري متلونو ذکر کول هم ضروري دي کوم چې په ( ۱۵۰۰ ق م) کښې لیکلي شوي وو او لکه د یونانیانو د قیصې په ډول دغه متلونه ساده نبغ په نبغه او د ځناورو د کردارونو په ذریعه د ژوند تېرولو عملي مشورې دي[4]۔

د قیصې د تاریخ په حواله دوېم نوم د مصر راځي چې که یو خوا په تهذیبي حواله خپل تاریخ او حېثیت لري نو بل خوا د قیصې د تارېخ په لړ کښې هم خپل ارزښت لري۔ په دغه حواله ئې د "دواؤ رونړو قیصه" د ذکر وړ ده کومه چې د مستند تحقیق له رویه په (۱۲۰۰ ق م – ۱۱۹۴ ق م)[1] کښې تېره شوې ده۔ قیصه په مختصر ډول داسې وه " باټا د خپل مشر رور انپو (انوبیس) سره وسېدو چې ورندار ئې پرې د غلط کار نۀ کولو په وجه د وهلو او جنسي تېري کولو تورونه ولګول انو بیس د باټا د وژلو هڅې کولې خو هغه تښتېدلے ؤ، او د دعا په وجه رهرختي خداے د دواړو رونړو ترمنځه په سیند کښې مګر مچھ پیدا کړو۔ باټا د خپلې بې ګناهۍ او سپیناوي په وجه د ځان نۀ جنسي اندام پرېکړو او سیند ته ئې وغورځولو چې یو کب وخوړو په دې د انوبیس تسلي وشوه او بیا چې ورته د سیدار وادۍ ته د تلو او خپل زړۀ د سیدار (دیودار) ونې په سر کښې د ځاے په ځاے کېښودو او د انوبیس د اجازې ورکولو په ردعمل کښې د بیا ژوندي کېدو منصوبه واؤرېده نو خپله ښځه ئې مړه کړه۔ باټا په دیودار یا سیدار وادۍ کښې ژوند پېل کوي خنم نومي خداے پرې زړه سېزي او ښځه ورله پېدا کوي او بیا چې کله د دغې ښځې او فرعون ترمنځه اړیکې جوړېږي نو هم د دغې ښځې په وېنا فرعون هغه ونه وهي په کومه کښې چې باټا زړه ښودے ؤ او باټا مري۔ انوبیس په څلورم کال د باټا زړۀ پیدا کوي او په یخو اوبو کښې ئې ږدي او باټا راژوندے کېږي[5]۔

د قیصې په دغه سفر کښې دریم نوم د یونان د خاورې راځي چې یو ډېر فراخه تهذیب ئې لیدلے دے۔ یونان هسې هم د علم و ادب ،سائینس ،طب او سیاست میدان پاتې شوے دے او د قیصې په حواله چې دغې خاورې څومره کردار لوبولے دے د ستائینې وړ دے۔ د قیصې په دغه سفر کښې په خصوصي توګه په یونان او ټوله نړۍ کښې چې د چا نوم د ذکر وړ دے هغه لقمان حکیم دے، چې د (۵۶۴-۶۲۰ ق م) په دوران کښې تېر شوے دے، چې د Aesop's Fables په نوم ئې قیصې مشهورې دي، چونکې د هغه ژوند په تیارو کښې پټ دے خو د سونو کالو راسې د هغۀ سره منصوب قیصې راجمع شوې دي[6]،

[1] د ډاکټر رچرډ لټ په خیال دا قیصه د دنیا د ټولو نه زړه قیصه ده چې تاریخ ئې (۳۴۰۰ ق م) ښائي چونکې دا تاریخ د مستندو شواهدو په تله پوره نۀ خېژي۔ ډاکټر سهېل بخاري، اردو داستان، مقتدره قومي زبان اسلام اباد، ۱۹۸۷، ص ۳۶۔

چې تعداد ئې اووه سوه او پنځوېشت ته رسي . د دغې قیصو کردارونه ځناور ،مرغۍ او حشرات وو، د کومو رويې او د خبرو کولو صلاحیت چې د انسان په رنګ ؤ . دغه قیصې د یو نه بل ته د وخت تېرې او عبرت او اخلاقي اصلاح په غرض وئیلے شوي دي . د اخلاقیاتو او تربیت نه علاوه دغې قیصو د هغه وخت د امرانه حکومت په وړاندې د کمزورو غږ په علامتې انداز هم په ډېره مؤثره توګه زوراورو ته رسېدلے دے[7] . د لقمان حکیم د قیصو راغونډولو او د شهرت تر بامه په رسولو کښې د بیبریس (babrius) او فېډرس (Phaedrus)نومونه د ذکر وړ دي، چې بلترتیب ئې په وړومبۍ او لسمه پېړۍ کښې راغونډې کړې وې[8] . دغه قیصې د دنیا په هره ژبه کښې ترجمه شوي دي . په پښتو کښې میجر راورټي په کال ۱۸۷۱ء کښې د لندن نه د " قیصۍ د ایسپ الحکیم" په نوم چاپ کړي دي.

د ډاکټر شېرمان طائزي په خیال د یونان خلقو څه دوه سوه کاله د لقمان حکیم په قیصو شخوند ووهلو د هغې نه پس تخلیقي ادب وټوکېدو چې هومر د " ایلیډ" او " اوډېسي" په نوم منظومې قیصې جوړې کړې[9] . د هومر په حواله معلومات کم دي البته د ۷۵۰ ق م نه تر ۱۲۰۰ ق م پورې ئې د ژوند امکانات په نظر راځي ځکه چې د هغه ایلیډ د ټروجن جګړې عکاسي کوي خو د شعري انداز په وجه ئې نقادان وروسته ګڼي ولې هیروډوټس چاته چې د تاریخ پلار وئیلے شي هغه ئې د ۷۵۰ ق م خواؤشا تېر شوے ګڼي . دغه منظومې قیصې کۀ یوخوا د ادب په حواله ستر شاهکارونه دي نو بل خوا د اخلاقیاتو او اصلاح په حواله ئې خپل حیثیت دے . د روم او یونان خلق اوس هم تر هغه وخته ځان ته نا لوستي وائي . تر څو پورې چې ئې د دغه ړوند شاعر مطالعه نۀ وي کړے . په روم کښې دغه سلسله ورجل ( ۷۰ ق م – ۱۹ ق م) د اینیډ (aeneid) په نوم جاري وساتله کوم چې د هغه یو نیمګړے پاتي شوے شاهکار دے، چې هم د دې په وجه ئې په روم کښې خلق د یو قومي رزمیه شاعر په توګه مني[10]

د هند په خاوره د قیصې تاریخ ډېر اوږد دے . د قیصې عنصر د واقعاتو او حادثاتو په شکل کښې په ویدونو کښې په بشپړه توګه په نظر راځي چونکې په مختلفو وختونو کښې د دغه ویدونو حصې لیکلے شوې دي ځکه نو د دغې په ژبه او انداز کښې ئې فرق هم راغلے دے .

دغه ویدونه چې په لسو برخو او ۱۰۲۸ سردونو مشتمل دے کوم چې په سنسکرت ژبه ؤ او د رګ وېد په نوم راټول شوے دے د رګ وېد د ترتیب او تالیف په حواله د عالیمانو اختلاف موجود دے خوولې بیا ئې هم د ډېرو شواهدو په بنیاد مونږ د دې زمانه د ۱۴۰۰-۱۵۰۰ ق م ترمینځه ګڼلے شو[11] . د وېدونو د قیصو د ذکر نه پس په تورات،انجیل،زبور او قران مجید کښې چې کومې د تېرو وختونو قیصې د انسان د اصلاح او عبرت په غرض بیان شوي دي دغه د قیصې د اهمیت او ارزښت په اړه پوره دلیلونه او ثبوتونه دي دقیصې د اهمیت په حواله ارسطو وائې چې که چرته څوک په خلکو د خپل نقط نظر منلو په وخت کښې د دلیل او ثبوت ورکولو په لړ کښې د نشتوالي ښکار شي نو دغه کمے په یوه قیصه یا واقعه هم پوره کولې شي.

د هند په خاوره د وېدونو د دغه منظومو رزمیه قیصو نه پس هم د قیصې دغه سفرجاري ؤ. په سنسکرت ژبه کښې په دوه سوه ق م کښې یو بل شاهکار کتاب د "پنچ تترا" په نوم حکیم بېدپا ے لیکلے ، چې د دنیا په مختلفو ژبو کښې ئې ترجمې شوې دي. د اکبر باچا په وخت کښې ابوالفضل په فارسۍ کښې د "عیاردانش" په نوم کړې ده چې هم د دغې ترجمه په پښتو کښې افضل خان خټک "علم خانه دانش" په نوم کړې ده دوېمه ترجمه ئې په پښتو کښې میا عبدالغفور د انوارسهیلي او حسیب ګل کاکاخېل ئې د "ذادالفرح" په نوم کړې ده[12]

د عربو په خاوره د قیصو پېل د الف لیلته نه کېږي چې تاریخ ئې تقریباً اووه سوه کاله وړاندې ځي[13]

د أَلْفُ لَيْلَةٍ وَلَيْلَةٌ ,یعني زر شپې او یوه شپه په وجه روښانه دے په عامه توګه د خلقو دا خیال دے چې ګڼې دا زرشپې یعني أَلْفُ لَيْلَةٍ دي خو ولې په اصل کښې دا أَلْفُ لَيْلَةٍ وَلَيْلَة دي چې په انګرېزۍ کښې په ***One Thousand and One Nights*** مشهورې دي او په عامه توګه په پښتو کښې په الف لیلیٰ یادولې شي.

د ددې په حقله وئیلے شي چې دا د شهریارنومې بادشاه او شهرزادي ترمینځه وئیلي شوې هغه قیصې دي. کله چې بادشاه د خپلې ښځې نه پس د ورندار په بې وفائۍ خبر شو نو په دې خبره ئې یقین پوخ شو چې ښځې په ذاتي توګه ټولې بې وفا وي ځکه نو خپله ښځه ئې مړه کړه او هره شپه به ورله وزیر د پېغلې جینۍ سره واده کولو او د تېر تریخ

حقیقت او انکشاف له وجې به ئې بیا وژله یوه ورځ د جینکو د کموالي په وجه وزیر ناکامه شو او د هغه لور د هغه د مرضۍ خلاف د بادشه سره واده ته غاړه کېښوده. په وړومبۍ شپه شهیرزادي بادشاه ته یو قیصه شورو کړه او نیمګړې ئې پرېښوده. بادشاه د هغې مرګ د قیصې د نتیجې اوربدو په غرض ما تل کړو. په سبا شپه د بادشاه ښځې هغه قیصه سرته اورسوله او بله ئې شورو کړه دغسې دا سلسه تر زرو او یوې شپې ورسیده. دغه قیصې په طنز و مزاح، مینې محبت،او تاریخي پېښو اډانه وې چې د سسپنس او جذباتو نه ډکې هم وې د خپل شهرت په وجه په مختلفو ژبو کښې راغونډې شوې او ترجمه شوې دي چې د موضوع او مقدار په حواله پکښې ښه ډېر رد وبدل هم راغلے دے[14] .د دغې هر قسمه رد وبدل باوجود دغې الف لیلوي قیصو د قیصې په میدان کښې په نړیوال کچ خپل داسې کردار لوبولے دے چې تر ننه پورې ئې قیصه د اثراتو نه بچ نۀ ده پاتې شوې.

د دیارلسمي پېړۍ په وړومبي سر کښې چې کله د امیر خصرو پیر نظام الدین اولیاء بیمار شو نو د هغه له پاره ئې په فارسۍ کښې لکه د زرو شپو د قیصو په رنګ قیصې د چار درویش په نوم ولیکلې، چې په اردو کښې په باغ و بهار یادېږي. مرکزي کردار پکښې د ازاد بخت بادشاه دے کله چې هغه د خپل مرګ له غمه د محل نه بهر د زړه سپکولو په غرض راوځي او په قبرستان کښې د ځلورو درویشانو نه د هغوئي د ماضي د مېنې محبت قیصې اوؤري او په دغه دوران کښې د خپل زوي د پېدائش واؤري نو په دغه خوشحالۍ کښې په محل کښې د مېلمستیا په دوران کښې د ټولو جدا شوؤ مئینانو د یو بل سره ودونه وکړي[15].

په اټلي کښې بکاشیو (Bocaccio) په اوولسمه (۱۷) پېړۍ کښې د اټلي د لسو کسانو د سفر قیصې د ډیکامیرن (Decomern) په نوم چاپ کړې چې د چهار درویش په شان ئې د لسو کسانو لس بېلې بېلې قیصې په یو مرکزي خیال کښې وړاندې کړې.

د دې نه علاوه په ایران روس فرانس انګلېنډ کښې هم د قیصې د پر مختګ په حواله کار شوے دے. د الف لېلته (الیف لیلی) د زرو شپو قیصې چې په پیریانو ،دیوانو او ښاپیرو او مافوق الفطرت عناصرو اډانه وې د اهمیت وړ دي د وخت سره سره دغه قیصې د داستان په نوم یادې کړې شوې د فني چوکاټ د خامیو او کمیو نه علاوه ئې د موضوع نمګړتیاوي هم لرله خو دا د دغې وخت د نفسیاتو او ضروریاتو عېن مطابق کړه او پوره وې. په دغه

داستانونو کښې د مافوق الفطرت کردارونو نه کار اخیستے کېدو او په قیصه کښې به قیصه د پند ونصیحت په غرض په خطابیه انداز کښې وړاندې کېده او د قیصې دغه سفر جاري ؤ، دغې قیصو او داستانونو به که یو خوا اخلاقي درس لرلو نو بل خوا به د وخت تېرې په غرض هم وړاندې کېدلې او د وخت وخت سره به پکښې شعوري او غېر شعوري بدلون راتلو د قیصې په شکل کښې هغه وخت ډېر بدلون راغلو کله چې په اوله کښې دغه قیصې د (novella) په نوم مشهورې شوې چې د دغې په وجه قیصه ایز ادب ته د ناول په نوم یونوے او خوندور صنف متعارف شو۔

# حوالې

[1] طائزے،شبر زمان،ډاکټر، ناول هنر او سفر، کامل پښتو ادبي جرګه پېو سیمه،ضلع نوښار،پښتونخوا پاکستان، ۲۰۰۴ مخ ۱ ـ

[2] اعظم، محمد اعظم، پښتو افسانه تحقیق او تنقید ، عظیم پبلشنګ هاؤس خیبر بازار پېښور، ۱۹۷۶،مخ ۱۹ـ

[3] فرمان فتح پوري، ډاکټر،اردو کي منظوم داستاني، انجمن ترقي اردو کراچي، ۱۹۷۱، ص ۲۲

[4] https://www.ancient.eu/article/664/aesops-fables/date 2 may 2020 PTS 01:50.PM

[5] https://uh.edu/honors/human-situation/survival-kit/study-aids/TwoBrothers.pdf Dated 07/12/2022, PST 01:30 PM.

[6] https://www.worldhistory.org/article/664/aesops-fables/ PST 01:30 PM.

[7] https://www.ancient.eu/article/664/aesops-fables/date 2 may 2020 PTS 01:50.

[8] Cuddon.J.A, The Penguin Dictionary of Literary terms and literary theory, fourth edition, published in penguin books 1999,page 300.

[9] طائزے،شبر زمان،ډاکټر، ناول هنر او سفر مخ ۲ ـ

[10] https://www.britannica.com/biography/Virgil .Date 15 may 2020.PTS 12.12 PM

[11] کاکاخیل،بهادر شاه ظفر،سید ، پښتانه د تاریخ په رڼا کښې،اووم ځل، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور پښتونخوا، ۲۰۰۹، مخ ۵۹

[12] اعظم، محمد اعظم، پښتو افسانه تحقیق او تنقید ، عظیم پبلشنګ هاؤس خیبر بازار پېښور، ۱۹۷۶،مخ ۱۹

[13] حنیف خلیل، پښتو ناول ( تحقیقي او تنقیدي جائزه) باګرام پښتو ادبي جرګه پېښور، ۲۰۰۰ء، مخ ۲۷

[14] https://www.dictionary.com/browse/arabian-nights, Dated 07/12/2022, PST 01:40 PM.

[15] https://www.complete-review.com/reviews/urdu/miramman.htm Dated 07/12/2022, PST 01:40 PM.